21.11.2014

پروفیسور عبدالخالق رشید

د دریوند کرښې له لاسلیکه دوې میاشتې وروسته

# د وزیرستان د ویش د توطیی په اړه یو تاریخی سند



یوه مخکنۍ یادونه :

دیورند(*) یودوه سیلابه کرغیرن نوم اوکرغیرنه کرښه ده ، چې دیوه عادي انګریز کیپتان (وروسته دباندنیوچارو چاروکی ) اودافغانستان د یوه خپلسري خوپه عین وخت کې دیوشمیرپه وینا مجبور واکمن (عبدالرحمان خان ) له ځیرو سره ځان پتلیزوي . دغه دړنګر خو مکار کیپتان له ١٨٧٩ میلادي کال څخه ، یاني له هغه مهاله وروسته چې امیرمحمد یعقوب خان دکابل له تخته یوازې په دغه ګناه چې پربالا حصار باندې یې دپاڅون کوونکو وینې تویې نه کړې اوپردې یې تورن کړچې له مقاومت کوونکو سره یې لاره وه دهند په لوروخوځاوه ، دیوه فعال انګریزې مامور اودهغې حادثې له مخې چې پلار یې په سرحد کې دنده ترسره کړې وه اوهمدلته مړشوی و دافغانستان چا رو ته وګمارل شو، او خپل ماموریت یې له همدغه ځایه پیل کړ.

----------------------------------------------

(*) دغه مکار انګریز په ١٨٥٠ کال کې زیږیدلی او په ١٩٢٤ کال کې یاني یوکال له امیرمحمد یعقوب خان څخه وروسته مړشوی دی .دماشومتوب یوه برخه یې په بهوپال اودهندپه نورو برخه کې تیره شوې ، په دې چې پلارېې هم په بریتانوي هندکې دانګریزی کمپنې له مامورینو څخه و. په فارسي ژبه یې رواني خبرې کولې ، له ١٨٧٣ کا ل څخه وروسته یې له بریتانوي هندي واکمنی سره په کار پیل وکړ،دده له لویو کارنامه څخه یوه هم دغه (دیورندلین) پروژه وه چې نژدې لس کاله یې دهغې په اړوند کاروکړ خوچې په پای کې یې دغه دزهروغړپ پرامیرعبدالرحمان خان باندې دهمدغې خوږې ژبې (فارسي ) په خوږو کې پرسرواړاوه اوله دغې تاریخی پروژې وروسته یې اوږده دنده په دغه سیمه کې پای ته ورسیده ، انګریزانو ونازاوه ایران ته یې دخپل استازي په توګه ولیږه چې هلته له ١٨٩٤ څخه تر ١٩٠٠ کال پورې پاتې شو، بیا پراسپانیاکې سفیرشو اوله ١٩٠٣ کال څخه تر ١٩٠٦ کال پورې په امریکا کې دانګریزاستازي و. کله چې له امریکا راستون شو، بیا یې دیولړآثارو په لیکلو لاس پورې کړ،چې په هغو کې ( دخپل پلارژوند لیک،یومنی په لویدیزفارس کې اودنادرشاه په نامه تاریخی ناول ) دپاملرنې وړ شول .
دیورند چې هرڅه و،اوهرما موریت یې ترسره کړي هغه دبریتانوي هند (بریټش راج ) په استازیتوب دی ، په بریټش راج یاواکمنۍ کې اوسنې هند، سیلون ، برما ، بنګله دیش اوسینګاپورراتلل هغه واکمنی چې تر ١٩٤٧ کا ل پورې یې دهند په نیمه وچه باندې واکمنی وکړه او له دغې نیتې وروسته په دغه نامه کوم سیاسی او دولتي جوړښت دلته پاتې نه شو. هغه امپراطوری رنګه شوه ،یادې شوې تولې سیمې دخپلو حقوقو خاوندانې شوې ، هیڅا هم نوردانګریزانواصولو ، قوانینواو ترونونه ته اهمیت ورنه کړ،خو یوازې پښتانه دي چې تراوسه پورې هم دښکیلاکي امپراطورۍ په طلسمونوکې دهرډول انسانی اړیکو په پام کې نه نیولو سره ښکیل اوله هرډول حقوقونو څخه بې برخې کړل شوي او پاتې شوي دي. په داسې حال کې چې دغه ملت اودغه قام هم باید دانګریزانو له تګ سره سم دخپل خود ارادیت خاوند

شوی وای. دغه مساله تراوسه دآسیا پرزړه باندې دیوه ناسور په توګه همداسې پاتې ده چې باید نوره نو له دغه حالت راووزي او نړیوال باید له افغانانو سره د دغې غمیزې په پای ته رسیدوکې مرسته وکړي.

سره له دې چې موتمردیورند په انګریز راج کې دیوه ماموږپه توګه خپله دنده پیل کړه خوورسره یې زیات فکراوپام دغه ټکي ته هم وچې دی څنګه دخپل پلارنوم ، هغه څوک چې په پنجاب او پښتونخوا کې د یوه واکمن انګریزي مامور په توګه کارکړی و، په افغان ـ انګریز لومړی جګړه کې یی هم برخه درلوده او یوکتاب یی هم دافغان انګریز دلومړی جګړې په اړه لیکلي چې ددغو شپو ورځو ټول جزیات یې په هغه کې په پوره وضاحت سره په ډاګه کړي دي . دزوی دیورند هیله هم داوه چې په یوډول نه یوډول دانګریزي هند دواکمنی په نقشه کې دخپل پلار نوم تلپاتي کړي . پلاریی سرهنري مارین دیورند چې په انګریزي پوځ کې یي لویه دنده ترسره کړه او په پای کې د ۱۸۷۱کال په پیل کې په داسې حال کې چې دپنجاب لفتنینټ ګورنرهم و په (ټانک ) کې له هاتي څخه راولوید ، مړشو او بیاهملته خښ شو. زوی یې یوازې په دې خاطر چې دپلارنوم یې دلته ژوندی پاتې شي د لوی افغانستان له چارو سره ځانګړې لیوالتیا پیداکړه او فارسی ژبه یې زده کړه او رواني خبرې یې پرې کولې ان دومره چې عبدالرحمان خان یي دهغې له امله ورجذب کړاودیورند دکرښې دلاسلیک یولامل یي هم داو چې دیورند ( دده ملګری ) په فارسي ژبه هم ډیرښه پوهیږي . زه فکرکوم چې ماتمر دیورند په پیل کې ( تر۱۸۸۰ کال پورې ) داپه پام کې نه درلوده چې دده له دغې ځانې لیوالتیا به دومره لویه تاریخي اوانساني غمیزه جوړیږي ، خوداچې استعماري پروژې یوه پربله پسې په دغه سیمه کې دزمان په تیریدو سره دپاملرنې وړکیدې ، همداسې دده ذوقي اولیوالتیایي پروژه هم په یوه لویه انګریزي اړتیا باندې هغه هم د دوی د یوازني سیال ( روسیې ) په وړاندې پرافغانانو او د دوی پرخاوره باندې پرزور ور وتپل شوه . ماتمردیورند دخپل پلار ښه عزت وکړ، په دې مانا چې د ده پلار ته د درناوي په موخه دافغانستان یوه لویه برخه دلوی افغانستان له پیکره دیوې نامنلې کرښې په نامه چې په پای کې بیادده په کورني نامه ( دیورند ) چې تراجرېي زجر ، ترښه نامه يي بد نوم زیات نامتو شو یاده شوه .ان چې نن سبایي دسیمي داندو ژوند په قاموس کې د دیورند دمنحوسې کرښې نوم هم دخپل بشري ضد ماهیت له مخې دځان کړي دی.



سرهنري مارین دیورند دسرماتمردیورند پلار

پرکابل باندې د انګریز جنرال رابرټ له واکمن کیدو ، اوبیا دعبدالرحمان خان ( د۱۸۸۰ کال دجولای ۲۲دکابل پرامارت کیناست ) له راوستواوپاچا کولو وروسته ، دیورند ته په هندکې لومړی د پخواني امیر ( محمد یعقوب خان ) دچارود ځانګړی مامور دنده ور وسپارل شوه چې

دهغه( امیر) او افغانستان پہ اړه باید ټولي چارې ترخپلې ځارنې لاندې ونیسي . ددغې دندې دسرته رسولو په ترځ کې دغه ځیرک کپیتان ځان دافغانستان او سرحد په چارو کې دومره ورساوه چې دبریتانوي هند لوړرتبه مامورینوهم ده ته په دغه برخه کې دصلاحیت لرونکي ما مور په سترګو وکتل اوپردغه مهال یې هره خبره دافغانستان او امیردچارو په اړه هم لوړو انګریزي مقاماتو اوریده او هم دهغولپاره دمنلو وړ وه .

دیورند په دغو سختوشیپوورځوکي چې لاهم افغانستان په هراړخیزه توګه تر انګریز ي منګولو لاندې ودافغانستان او په دغه سیمه کې دخورا تودو حالاتو شاهد و، انګریزان ترهغو پورې چې دامیرعبدالرحمان پښې په کابل کې ټینګیدې ، دافغانستان مستقیم واکمنان وو، جنرال رابرت ترخپلې وروستنې ورځې په افغانستان کې له یوځې تیریو نیولې بیا تر توطیواوسازشونو پورې ددغو ټولو کړو وړولارښونه په خپل لاس اوخپل سر وکړه ، دافغانستان په هره برخه کې یې دملي بې اتفاقی لپاره سختې هلې ځلې وکړې ، دملي مبارزینوپه لیکوکي یې داسي درزونه واچول چې په ډیرو لږو امتیازاتو سره یې دهغو یوزیات شمیرپه انګریزانو پسې روان کړل ، هغوی چې له دوی سره نه شول هغوی ته یې داسې بدمرغۍ راوټوکولې چې د هغوپه ترځ کې نوموړو سرکښوهم کرارکراردهغو کړو چې له وسه یې پوره وو توان له لاسه ورکړ. په غزنی ، میدان لوګر او زرمت اوشمالی کې یې له قومونو رانیولې ترځانګړو ملي مشرانوپورې دنویو توطیو لامونه خواره کړل تردې حده چې نورنو ډیرولږو کسانواوملي څیرودمقاومت (لکه نن سبا چې دروسانواوامریکایانوسره دمقاومت پایله ګورو ) په اړه فکرکاوه .د رابرت له خورا ورانو تګلارو څخه یوه داهم وه چې دوی دخپلومخو دخوندي کولولپاره په ملي بې اتفاقیوبرسیره دهیواد له تش په نامه روحاني قشر څخه هم دخپلو توطیودعملي کولو په ترځ کې ښه کارواخیست. انګریزانو دنژدې پنځوکالو(۱۸۷۹ – ۱۸۸۴ ) په ترځ کې نه یوازې پرافغانستان باندې دغیرمستقیم تش په نامه برلاسي مستقیمه لړۍ وساتله بلکې په دغه موده کې یې پرامیرعبدالرحمان خان باندې هم دا باور وشو چې څه دوی ورته وایی هغه یې هم مني اوهم په هره برخه کې ددوی په خوښه دعملي کیدو لاره چاره ورته برابرولای شي ، دوی اوس ځان په دې باوري کړی و چې نور نوله عبدالرحمان څخه وزیرمحمد اکبرخان نه شي جوړیدای. ځکه چې ده ته هم پرته ددوی له پیسو اودملاترله یاراني نورڅه نه وو پاتې .همداوه چې دغه دواک تږي سردار چې دمهاجرت په ترځ کې یې د روسانواودهغوی دمنځنۍ آسیا دلاسپوڅوواکمنانوکړه وړه په ښه توګه لیدلي وو دداسي ملت په وړاندې چې تردغه مهاله یې څو ځلې له دوی سره منګولي ورکړې وې دعلامه حبیبي په وینا ( په تصادفي توګه ) ملاترلی اوپه یوځې نومونه برچه پک ودراوه. امیرپلوي تاریخ لیکونکي په دې باور دي چې عبدالرحمان خان پر دغه مهال پرته له دې چې په یوه داسې لاس پوڅې دریځ کې پاتې شی بله چاره هم نه درلوده ، انګریزانودی لومړی له ملت سره چې په ده پسې کله هم نه و ددښمنی په دریځ کې ودراوه ، دویم یې روسیه ورته ببره کړه ، او په دریم ګام کې یې امیرمحمدیعقوب خان اودمیوند فاتح په هند کې تیارورته کینول چې که یې ددوی له خبرې یوه وړه سرغړونه هم وکړه . له هغوی سره به په احتمالي توګه لاس او خوله یوکړي ، دهغوبیرته راتګ به دده د ورکې یوازنی او دملت په خوښه لامل وي . هغه څه چې دوی کله هم نه ورته تیاروو اونه یې هم ترسره کړل .
انګریزان تر ۱۸۸۴ کال پورې دافغانستان او امیرپه وړاندې دملي مقاومت دکمزورتیا پر پروژه باندې بوخت پاتې شول ، په غزني ، شمالی ، وردګو، زرمت ،کټوازاوجلال آباد کې چې کوم حرکت دمحمدجان خان او ملامشک عالم او میربچه خان او نورو په مشرۍ دسردارموسی جان دولیعهدۍ او په پای کې د امیرمحمدیعقوب خان دبیرته راتګ په خاطر رامنځ ته شوی و، هغه یې هم ورو وروپه ماهرانه توګه د بیلابیلو پلمو اوبیلابیلوکسانو دتوطیوپه ترځ کې دعبدالرحمان خان دټینګښت په خاطر له پښورا وغورځاوه ، محمدجان خان

يي په کابل کې دامیرلاس کتوی او دنن سبا دغه اوهغه منصب په پلمه رامحاصره او له ملي غورځنگ څخه لرې وساته . ملامشک عالم چې لاهم د امیرګوتو نه و ورغلی ،لاهم په خپل انګریزي ضد روحانی تبلیغ باندې په لوګر اوغزني کې بوخت و ، عصمت الله خان جبارخیل یي هم دغلجیودمشری د تش په نامه ویاړپه پلمه تر خپل واک لاندې راووست اولکه محمدجان خان غوندې يي یوبې واکه درباري ترې جوړکړ امیربه هرچیرې روان و دی به يي هم له ځان سره یرغمل ګرځاوه . میربچه خان چې کله دجهاد د دوران دپیسو دحساب نه ورکولو په پلمه له پوښتنواو ګرویږنو سره مخامخ شو، له هوښیارئ څخه کارواخیست اودامیرله اولکي څخه يي لومړی هند اوبیا فارس ته ځان سردار محمد ایوب خان ته ورساوه اوله هغه سره بیا دایران له لارې هندوستا ن ته ولاړ.
امیرعبدالرحمان چې په پلازمینه کابل اوشاوخوا ولایتونو کې دیادو شویو ملي ځیرو په وړاندې په خپلو کارواییو کې ځان بریمن ولید. بیایي دانګریزانو په مرسته اواشاره دکندهار دنیولواودایوب خان د پوره ماتې په لور ورمخه کړه . په پیل کې خوده باور پردغه برې په دې نه کیده چې انګریزانو غوښتل کندهار دخپلې واکمنی په قلمرو کې وساتی ، دخلکو اوپه تیره بیا دملي مجاهدینود وروستئ مقاومت یولامل اوکلکه غوښتنه همدغه ټکی و چې انګریزان باید کندهار دخپلې واکمنی برخه نه کړي اونه يي باید له افغانستان څخه بیله خپله برخه وبولي (۱).
که څه هم انګریزان دکندهار پریښودو ته په اسانئ سره تیارنه وو، خو وروسته دغه عام پاریدونکي حرکت دې ته ناچارکړل چې باید دخپلو پوځونو لیکې پر کوژک اودغه پرشاوخوا باندې ودروي ، امیرته يي زړه ورکړ چې باید پرکندهار باندې یرغل وکړي او هغه ولایت باید نور دتل لپاره دسردارغازي ایوب خان د برلاسی له دایرې څخه وباسي .امیرعبدالرحمان خان په ( ۱۸۸۱ ) کال کې کندهار دیوې قیماری جګړې په ترڅ کې له سردارایوب خان څخه ونیو ( له قماري جګړې څخه مراد دادی چې دامیرباور نه کیده چې کندهار به له ایوب خان څخه په اسانئ سره ونیسي ، همداوه چې خپله ټوله خزانه يي په کابل کې په دوو برخو وویشله ، یوه برخه يي ترکستان ته واستوله اوبله يي له ځان سره دکندهار دجګړې په نامه واخیسته چې زیاته برخه يي له کابله ترکندهاره په هره سیمه کې دخپل برې په موخه پرسیمه ییزوخانانو اوملایانو باندې وویشله ، یوه برخه يي ترکستان ته په دې خاطر واستوله چې که دکندهارپه جګړه کې ماته وکړي ، نو بیا به هلته ور وتښتي او هلته به کارترې واخلي .
(محمدجان خان یادشوی اثر)
په هرډول دایوه مقدماتی یادونه وه چې دغه عصرته مو په لنده توګه وکړه ، اوس راځو اوهغه سند په ګډه لولو چې دهغه په ترڅ کې ددغې تاریخی غمیزي یولړهغه جزیات لوستی شي چې دهغو له مخې انګریزانو په څومره مکاریوسره دوزیرستان یوه برخه چې ترننه دآسیا په تاریخ کې دغمیزو یوه لړی ورته ویلای شو له افغانستانه دیوې توطیې په ترڅ کې بیله اودبی ثباتی په توپان لاهوکړه .

---

(۱) محمدجان خان وردګ اوملامشک عالم لومړني څوک ووچې دغه موضوع يي دخپل یوه شرط په توګه انګریزانو ته وړاندې کړې وه .

# د ديورند دتړون له لاسليکه دوې مياشتې وروسته

## « آيادا رښتيا ده چې موږ امير دکال په شپږلکه پلورلي يو؟ »

انګريزانو د ۱۸۹۳کال دنومبر په (۱۲) له اميرسره دافغانستان ديوې پراخې برخې پرسرخپله معامله ترسره کړه ، د ديورند په مشرۍ چې کوم پلاوی په همدغه موخه ټاکل شوی و ، هغه دغه معامله ديوه تړون په نامه چې اميرخپله هم منلي اوهم يې لاسليک کړی ترسره کړه ، ښايي ډيرخلک دا پوښتنه وکړي چې انګريزانو داکار په کوم مقصد ترسره کړ ؟ دوی غوښتل افغانستان تجزيه کړي اوددغه هيواد کلي اوکورونه په زور په دوو برخو باندې وويشي ؟ دوی يوازې غوښتل چې په هندکې دخپلې امپراطورۍ دخوندي ساتلو په موخه يوبسيا او باوري سنګر دخپلو سيالانو ( روسانو ، فرانسويانو اونورو ) په مقابل کې له پښتنواوپښتونخوا څخه جوړکړي ؟ اوکه يې موخه داوه چې بايد دهند پرلورډآسيا دبيلابيلو برخو ( لويديزې اسيا ، جنوب آسيا ، منځی آسيا ، چين او چينی ترکستان ) تجارتي مالونه اوتجارتي کاروانونه له خطره پرته رامات شي ؟

دغه پوښتنې هغه څه دي چې بايد په دغه اړه ترهرڅه دمخه سرې ښه غوراوسوچ پرې وکړي اوپايله يې ديوه تحليل اوپايلې په توګه وارزول شي . زه په دغو پوښتنوکې ترهرڅه دمخه په دويمې پوښتنې باندې ديولړاسنادو په رڼاکې ټينګارکوم اوترډيره حده دا د ديورند دبيلتانه يوازنی اومهم لامل ګڼم ، په دغه اړه يوه تاريخی حقيقت ته رجوع کوو:

يومهال علامه اقبال خپل يوه دوست محمود خان بنګلوري ته يوليک دافغانانو اوپښتونخوا په اړه ليکلی و، په هغه کې يې ويلي وو چې افغانان دتاريخ په اوږدو کې دهندوستان لپاره ډال وو ، دې اوپه راتلونکې کې هم کيداشي ديوه لوی مدافع په توګه حسا ب پرې و شي ، ځکه نو بايد ټل پردوی باور وشي ، له دوی سره بايد مرسته وشي ...

کله چې روسانو پرافغانستان يرغل وکړ په بيلابيلو خيالي اوميراثي موخوکې يې يوه هم دهند تر تودو اوبو پورې ځان رسول وو دعلامه دغې وړاندوينې د روسانو له راتګه وروسته خپل اهميت وموند اوداپې په ډاګه کړه چې پښتانه اوپښتونخوا په رښتيا هم د هند دنيمی وچې لپاره ديوه دفاعي ډال ښه لري همداوه چې په شلمه پيړۍ کې هم روسانو ونه شواې کولای چې تردغه سيمه دی دغې خواته خپل نفوذ اونفوس پراخ کړای شي، پښتونخوا يوځل بيا ديوه سنګرپه توګه وکاريده يوملیون افغانان له روسانو سره دجهاد په نامه دامريکايانو په اشاره دکمونيزم دماتې په لامل له منځه لاړل ، هرڅه سره ګډوډ شول ، خو ثبات تراوسه هم په دغه سيمه کې دخوب ليدل دي.

انګريزانوهم له ديورند څخه له دغه هدفه پرته بله کومه اسره اوهيله نه درلوده او نه يي په فکرکې وو. دوی له روسانوڅخه دسخت خطر احساس کاوه ، همداوجه وه چې له چترال اوګلګت څخه بيا ترکندهاراوهرات پورې يې ځانونه له روسانو په امن کې نه ګڼل ځکه داخبره د تاريخ په اوږدو کې روښانه وه چې دهندوستان شمال ( پښتونخوا اوسرحد ) تل ددغه هيواد دنيولولومړنی قراول و چې هرځواک کولای شول له دغې لارې هندوستان ته په آسانی سره ننوزي اوهلته دننه بيا په آسانی سره دخپلو اهدافو دتحقق په لامل لاس په کارشي .داچې امريکايانواو نورو دشلمې پيړۍ په پای کې همدغه تګلاره وڅارله ، اوله دغې سيمې يې دکمونيزم په مقابل لويه مقابله ترسره کړه ، انګريزانو خوبه په نولسمه پيړۍ کې خامخا کټ مټ لوبه په همدغه مقصد ترسره کوله ، دوی ته دامهمه نه وه چې دغه لوی تاريخی هيواد تجزيه کيږي ، بيسواده کيږي او د دوی ويشل به يوه بشري فاجعه وي، دوی يوازې دخپل

خونديتوب په لامل په دغه بشري ضد جنايت باندې لاس پورې کړاوپر اميرعبدالرحمان يې د ديورند نامنلي کرښه ومنله اوپرترون يي له هغه څخه دهغه لاسليک واخيست. خبره داده چي انګريزان بايد په نړيواله کچه ددغه ناورين اوجنايت له امله دنړيوالو په مخکې له پښتنواوافغانانو ترهرڅه دمخه ښښنه وغواړي ، دوی بايد په دغه انساني جنايت باندې ونه وياړي داځکه چې دوی په دغه کارکې له دوو وسيلو څخه کاراخيست چې يو زور و اوبل هم پيسې ، آيادا دمنلو وړوه چې دوی اميرعبدالرحمان خان ته دترون له لاسليک سره سم داتلسو لکو روپيو ژمنه هم وکړه اوهم يې عملي کړه ، اوس پوښتنه داده چې موږ بايد پوه شو چې دوی د افغانستان دغه برخه په اتلس لکه له اميره پيرودلي اوکه يې په زور نيولي ، که هرڅه وو ، که په اتلس لکه يې دغه ځمکه غصب کړه ، خودانه وايي چې دوی ددغې خاورې په معامله کې ددغې خاورې له اوسيدونکو هم پوښتنه وکړه ؟ څرګنده ده چې دوی دغه پوښتنه ونه کړه په دغه تاريخي سند کې هم دخلکو همدغه پوښتنه دوی درک کړی خوځان يې پرې ناګارکړی .

پښتونخوا په زور له لاسه لاړه ، اتلس لکه روپۍ هم له ياده ووتې ، هندوستان تجزيه شو داخبره په خپل ذات کې دامانا لري چې معاملې خپل ارزښت له لاسه ورکړ، بايد هغه برخه چې داتلس لکو په مقابل کې له لوی افغانستان څخه بيله شوې وه بيرته په افغانستان پورې تړل شوې وای . له بده مرغه چې په دغه برخه کې هم انګريزان اوهم دهغو لاسپوڅي پټه خوله پاتې شول اوترننه هم ددغه ناسور په وړاندې يوه نړيواله تولنه او يوه بشري مرجع پيدانه شوه چې ددغې سيمې دخلکود ارادې اوتاريخی شته والي په اړه يوبشری اواخلاقی فکروکړي اودغې سيمې ته يا خپلواک برخليک ورکړي اويايې بيرته خپل اصلي پيکر افغانستان ته وسپاري . ځکه په دغه اړه ترټولو مهمه خبره داده چې ديورند کرښه اوبيلتون دپښتنواوپښتونخوا دولسونو اراده نه وه اونه يې په دغه اړه خپل رضايت په جمعي توګه ترننه ښودلي دی. د ديورند کرښه يوه فرضي کرښه وه ، چې د وخت امير هغه له انګريزسره ديوې ځانګړې معاملې په توګه څو د دوی واک پرهند اوسيمه باندې خوندي و ساتل شي لاسليک کړه چې له دغه لاسليکه بيا ترننه دغه کرښه دپښتنو دبربادۍ اوبدمرغۍ په موخه کارول کيږي ، که پرون همدغه سيمه انګريزانو کاروله ، نن يې امريکايان کاروي ،لرې نه ده چې زر به داکرښه يوه ورځ چين هم له اوسنيوپنجابی واکمنانو سره ديوې معاملې اويا ماتې په پايله کې ديوه بل اسيايي ناورين په توګه هم داسيا اوهم ددغو خلکو پرضد وکاروي .

په هرډول راځو د تاريخی سند متن ته ، په دغه متن کې زموږ لوستونکي په ډيره آسانی سره دلوی افغانستان په وړاندې دطرح شوې توطيې ټول اړخونه په خورا اسانی سره ارزولی شي. په دغه برخه کې ترهرڅه دمخه دوه ټکي زموږ په مخکې را پرکيږي ، يوداچې خلک څه کوي او دغه طرحه څنګه ارزوی ، زما مطلب په دغه برخه کې خلک هغه عام ذهنيت دی چې په ټوليزه توګه دخلکواستازيتوب کوي ، نه يوځوتنه چې ياد اميرله خوا هڅول شوي اوياهم دانګريزانوله خوا چې نه دملي منافعو په ارزښت اواهميت پوهيږي اونه هم له هرډول معاملې ځان پربله خوا تيرولای شي . دخلکو ذهنيت دادی چې : « آيادا رښتيا ده چې موږ امير دکال په شپږلکه پلورلي يو؟ »

داهم هغه پوښتنه ده چې ځواب يې په روښانه توګه تړون او دهغو پيسو زياتی دی چې اميرددغه تړون په مقابل کې ترلاسه کړې ، خلک رښتيا وايي آيا يواميراويوواکمن داحق لري چې دملت شتمنی په تيره بيا هيواد يوبل هيواد ته دپيسو هغه هم د اتلسو لکو په ارزښت باندې ور وپلوري ؟ فرضاً دااميريې ناروغ اويا ليونی لکه چې اميرمحمديعقوب خان چې کلونه کلونه په زندان کې ولويد او چې کله راخلاص شو ، ټول په دې پوهيدل چې هغه مزاجی ستونزه لري ، خو يرغلګرو انګريزانو يوازې دخپل هدف په موخه هغه ناچارکړاودګندمک په لور

دتړون دلاسلیک په موخه له ځان سره په لیوني مزاج سره روان اوهغه يې پرې دیوه بشری ضد عمل په توګه پرې لاسلیک کړ. چې پایله یې دافغانستان دخلکو له خوا موږ ټولو ولیده چې په څه ډول ملت بیا خپل غچ ددوی له استازي کیوناري په څه ډول واخیست. دوی له هغې ماتې عبرت وانه خیست اوبیایی د دیورند نامنلې طرح پرعبدالرحمان خان باندې ور وتپله. اوهغه دهندي فلم کیسه ترې جوړه شوه چې کوم لویدیزوال له لویدیزه ملاراتړلي اوغواړي په هندوستان کې تاج محل واخلي، هندوستان ته راځي اوخپله داهیله له یوه لاابالی چا سره چې نه تاج محل پیژني او نه هم چا واک ورکړی شریکوي ، هغه هم پرې پوهیږي چې والله دالویدیز وال ترده هم لوده اوبی عقل دی ، ورته وایی چې زه حاضریم چې تاج محل درباندې خرڅ کړم ، په څویی غواړې؟ بالاخره خبره دي ته رسیږي چې څه پیسې ورسره دي هغه تروړی اودتاج محل بی منطقه خریدار دفلمي صحنی په لنډو او اوږدو کې همداسې بی اسرې پریږدي ، ترڅوچې بیرته له هندوستان څخه د وتو لپاره هم څه په جیب کې نه ورپاتې کیږي...

دامیراو انګریزانو معامله هم دغه د تاج محل دخرڅلاودفلم معامله ده چې دماهیت له مخې تردې زیاتی اوبرتري چې یوازې سړی پرې وخاندي نه لري .

په دغه لیک کې یوشمیرټکي شته چې هغه باید په غورسره ولوستل شي اوپه غورسره باید وارزول شي. دبیلګي په توګه دغه لاندې ټکي :

دلیک په (۲) شمیره کې دپنجاب ګورنر په ډاګه لیکي : « موږ باید دا انتظار ونه لرو کوم څه چې موږ له امیرسره ترسره کړي ، دهغو مانا به داوي چې ګواکي هغه څه موږ په کټ مټ ډول له قبایلوسره هم ترسره کړي دي. ربښتیا دا ده چې دهغو یوشمیرکړنې هغه څه هم دي چې هغه زموږ دداډ او باورله کچې دباندې دي. موږ باید دا انتظار ونه لرو چې زموږ دغه چلند به ان د وزیرو لپاره هم دمنلو وړ وي ، دهغه لوی ځواک اوبرخې لپاره چې هغوی به ترامیرهم زیات له موږ سره خوښ او زموږ پرخوا باندې دي. منی خان ماته وړم کال په ډاګه وویل چې دوی کله هم په دي خوشاله نه دي چې باید زموږ تابع داراوزموږ رعیت وی...»

دلیک په (۴) شمیره کې لوی انګریز مامور دیوه مسوول مقام په توګه لیکي :

« کیدای شي داخبره له هرچاسره له ونه ویله شي ، زما په نظرد وزیرو یوه شورا باید له امیرسره دخبرو په موخه جوړه شوې وای .په دغه ترڅ کې به هرڅه په خپله پردوی پورې اړوند وو، هرتصمیم به د دوی له خوا نیول کیده اودابه ترټولو ښه اوهراړخیز تصمیم هم واي. څه چې په دغه اړه زما مطلب دي ، هغه دادي چې هغه شمیر وزیری چې زموږ سره موافق نه دی ، دهغوی نظریات باید هم موږ او هم امیر په تړون کې په پا م کې نیولی وای ، اوس موږ باید داهم خلکوته په ډاګه نه کړو چې ګواکي د وزیرستان زیاته برخه دامیرپه اندول زموږ په واک کې ده.

خو رښتیا داده چې دوزیرستان زیاته برخه زموږ په اولکه کې ده ځکه نودهغو په چارو کې زموږ ونډه زیاته ده... »
په دغه شمیره کې ډیرې نورې خبرې هم راغلې دي چې په هغه مهال په رښتیاهم له چاسره د ویلو وړ نه وې ، حقایق هغه څه دي چې دوی سترګې ورباندې پټوي، اوکه نه دغه ټکي ته څه اړتیاده چې دوی یې وایی چې خلک باید په دې ونه پوهیږي چې د وزیرستان زیاته برخه د دوی په اولکه کې ده ...؟
برسیره پردې په دغه سند کې یوزیات شمیرنورې خبرې هم شته چې دیوې ښکاره توطیې نښې په ډاګه کوي اوهغه ښکیلاکي طلسمونه سرې په ډیره ښه توګه لیدای شي هغه چې دیوه غیرانساني عمل په مقابل کې باید دیوه یرغلګرو ځواک له خوا په سیمه کې عملي اوپرخلکو ور وتپل شي.
داډول ډیرې نورې خبرې هم شته چې دنظراومسلک خاوندان پرې له بیلابیلو زاویوپوهیدای شي. ځکه نوزه غواړم چې اصل انګریزي سند ژباړه دیوه پراخ بحث په موخه دګرانو لوستونکو په واک کې ورکړم .

تلګرام
نیته ، ۱۳ جنوري ۱۸۹۳
استونکي : فارن سکرتري کلکته
اخیستونکی : چیف سکرتري ګورمنت اف پنجاب ، لاهور
دسند ځای : د هند ملي آرشیف شمیره (۶۵) د۱۸۹۴ جنورۍ

د جنوري په (۱۰) تاسوته (۶۵) شمیره لیک دهغه تړون له کاپی سره چې هغه دیورند داندو- افغان پولي په اړه پاینل کړی دراستول شوی دی، په هغه کې پرتاسو باندې ستاسې دځرګندونو لپاره چې کوم ګامونه باید ددغه تړون دپایلي په اړه پورته شي غږ شوی دی. ویسرای په دې اند دی چې امیرته هم یولیک ولیکل شي اوله هغه باید وپوښتل شي چې دده لپاره کوم وخت یومناسب وخت دی چې باید دنښې لګولو لپاره یوګام پورته کړل شي. په عین حال کې داخبره هم باید ورسره وشي چې ددغه کارلپاره دیوه کمیسون پرځای د زیاتوکمیسونو دعملي کیدو لاره چاره برابره شي . ویسرای داهم وایي چې سیمه ییز مامورین باید دتړون دمحتویاتو دعملي کیدو لپاره وهڅول شي اوهم قبایلو ته باید دا وویل شي چې نور به په راتلونکي کې د دوی یرغلونه او حملي بندې وي که چیرې دوی تردې وروسته په یرغلو اوتعرض باندې لاس پورې کړ، دوی په جدی توګه یا زموږ او یاهم دامیرله خوا چې له موږ سره په دغه برخه کې همکاردی سزا وویني . کیدای شي چې دیوه دربار تابیا وشي اوپه هغه کې باید وزیري ملکانو ته بلنه ورکړه شي اودغه موضوع باید دوی ته تشریح او په ډاګه شي. دمهربانی له مخې زموږ تلګرام او (۶۵) شمیرې لیک راځواب کړئ هیله ده چې دنوموړو ټکو په اړه موخپل نظرهم موږ ته راولیږئ .

# دپورتني لیک په ځواب کې .

د هند دحکومت د لفتینېټ ګورنرځوابي یاداشت
د فارن دیپارتمنت د (۶۵) اف شمیرې لیک
( ۱۸۹۴کال دجنوری لسمه)

(محرم )

۱: زه هغه جزیات چې د کرمې د درې دپولې دټاکلو اوپه نښه کولو لپاره په بیرني توګه په پام کې نیول شوي تاییدوم اوپه دې اند یم چې باید زر ترزره عملي بڼه ومومي. پردې برسیره زه داهم منم چې ددغه کاردعملی کیدو اوتطبیق پردنده باید ښاغلي میرک وټاکل شي.
په دغه اړه له موږ سره څه اندیښني هم شته چې هغه باید د پېښاور او دیره جاتو له کمشنرانو سره په لیکلي ډول شریکې کړم اومشورې باید سره وکړوځوپه ډاګه شي چې په دغه اړه څه باید وشي اوکوم ګامونه باید پورته کړل شي .

۲: موږ باید دا انتظارهم ونه لرو چې ، کوم تړون اومعامله چې موږ له امیرسره ترسره کړي ، دهغو مانا به داوي چې ګواکي هغه څه موږ په کټ مټ ډول له قبایلوسره هم ترسره کړي دي. رښتیا دا ده چې دهغوکړنویوشمیرپه خپل ذات کې هغه څه هم دي چې هغه زموږ دډاډ او باورله کچې دباندې دي. په دغه اړه موږ هم باید دا انتظار ونه لرو چې زموږ دغه چلند به ان د وزیرو لپاره هم دمنلو وړ وي ، دهغه لوی ځواک اوبرخې لپاره چې هغوی زیات ترامیرهم له موږ سره خوښ او زموږ پرخوا باندې دي. منی خان ماته وړم کال په ډاګه وویل چې دوی کله هم په دې خوشاله نه دي چې باید زموږ تابع داراوزموږ رعیت وی لکه چې کټ مټ خبره د مسودو او درویش خیلو ترمنځ دخپل منځي دښمنی اوجګړوپه ترڅ کې کلونه مخکې رامنځ ته شوه او بیا د سولمن (سلیمان ) دجوړې دتړون پربنسټ سره آرام شول ، دوی سره کیناستل اوخپله ستونزه یې داسې سره حل کړه چې نه له موږ سره په تماس کې شول او نه هم له امیرسره . له همدغې ستونزې وروسته بیا ددوی یوشمیربی شکه دې ته لیوال شول چې زموږ پرخوا دی خپل تمایل پیل کړي. خوپه دې هم باید پوه وو چې داهغه وخت و چې ښکاریده دوی دامیرتراولکه لاندې خپله خپلواکی له لاسه ورکوي ، ځکه یې تیاری وښود چې زموږ په لور دې رامخه کړي. اوس هم که چیرې زموږ له مامورینو څخه هم کټ مټ حالات ووینې ، دوی به له موږ سره هم خپل شرایط زموږ دکنترول په اړه په ډاګه کړي .
برسیره پردې له اوږدې مودې راپه دیخوا دوی ته تل دا ویل شوې چې دا ددوی خپله خوښه ده چې ووایي له موږ سره راځی اوکه له هغه سره ، په دغه اړه زه په زړه نازړه توګه داوایم چې له دوی سره باید اوږدې خبرې ، هغه هم دجرګو

مرکوله لارې چې دوی باید خپله برخه په کې ولري ، پردوی باید پیسې او لونګی وویشل شي څو په پای کې وکولای شي په یوډول نه یو ډول خپله پریکړه او شرطونه دخپل ځان په باره کې په ډآګه کړي.داخو پخوانی دود و خو اوس دوی په یو ناڅاپه توګه دا واوریده چې د دیورند ماهرانه مذاکراتو اودقلم څو کرښو دغې مسالې ته دپای ټکي کیښود داسې چې دهغو خبرو پربنسټ دبرمل وزیر د امیرتروواک لاندې پاتې شول اودا نور بیا زموږ .
زه له اوږدې مودې راپه دیخوا په همدې سوچ کې وم چې دابه ددوی لپاره دمنلو وړنه وي چې دوی باید خپل قومي جوړښت دخپلو سترګوپه وړاندې مات ووینې ، هغه چې په تلپاتې توګه ددوی ملي پیوستون او یوالي په ډاګه کوي. زه فکرکوم چې سرموتمردیورند په دغه اړه سم فکرکړي او دغه ټکي ته ځیرو چې داپه خپل ذات کې زموږ لپاره دبیدارۍ یوه نښه هم ده . زه په دغه ټکي هم پوره باوري یم چې دا به د دوی لپاره ډیره ګرانه اوخواشینونکي وي چې امیراو یا موږ پرته له دی چې نور نو دوی ته ووایو چې « ستاسې په اجازه » اوپرته د دوی له شرطونو دوی په خپل کنترول اواولکه کې راونیسو. له بلې خوا داخبره هم شته چې نور نو د دوی لپاره داچانس هم دتل لپاره نشته چې په یوه او بله پلمه به وکولای شي زموږ او امیرترمنځ د دښمنی راپارولو په برخه کې څه رول ولوبولای شي.

۳: دازماخپل اټکل دی چې کیدای شي ډیربه دقیق نه وي ، باید چې ترهرڅه دمخه په دغه برخه کې دخلکو احساسات هغه چې له شکه خالي نه دي هم په جدي توګه په پام کې ونیسو ، ځکه چې په تیرو څو وروستیو اوونیوکې وزیریان له هغه څه څخه چې دلته ترسره شوي راضي نه دي، موږ ته راپوروونه رارسیدلي چې د دوی یوشمیرهغوی چې زموږ تراولکه لاندې دي داخبره کوي چې : « آیادا رښتیا ده چې موږ امیر دکال په شپږلکه پلورلي یو؟ هغه ته داحق چا ورکړی چې باید زموږ په باره کې دامعامله وکړي ؟ موږ په عین حال کې دهغو وزیرو په اړه هم راپوروونه ترلاسه کړی، چې د امیرتروواک لاندې دي هغوی هم شکایت کوي چې دوی ولی زموږ تراولکه لاندي رانه غلل . چې دغه دواړه ډوله شکایتونه او سرټکونې په خپل ذات کې له یوه بل سره په مغایرت کې ښکاري. اوداترې په ښه توګه پوهیدل کیدای شي چې دغه دواړه ډوله شکایتونه د دوی نا خوښې څرګندوی او دواړه دا په ډاګه کوي چې دوی نوره خپله آزادي چې تراوسه یې درلوده له لاسه ورکړې هغه چې د دوی خبرې ته به اهمیت ورکول کیده او د دوی شرطونه به په پام کې نیول کیدل.
۴ : کیدای شي داخبره له هرچاسره ونه ویله شي ، زما په نظرد وزیرو یوه شورا باید له امیرسره دخبرو په موخه جوړه شوې وای ، په دغه ترڅ کې به هرڅه په خپله پردوی پورې اړوند وو، هرتصمیم به د دوی له خوا نیول کیده اودابه ترټولو ښه اوهراړخیز تصمیم هم وای. کوم څه چې په دغه اړه زما مطلب دي ، دادي هغه شمیر وزیری چې زموږ سره موافق نه دی ، دهغوی نظریات باید هم موږ او

هم امیر په تړون کې په پا م کې نیولی وای ، اوس موږ باید داهم خلکوته په ډاګه نه کړو چې ګواکي د وزیرستان زیاته برخه دامیرپه انډول زموږ په واک کې ده.
خو ربښتیا داده چې دوزیرستان زیاته برخه زموږ په اولکه کې ده ځکه نودهغو په چارو کې زموږ ونډه هم زیاته ده.
په دي کې شک نشته چې دنښه لګولوپه عملي کیدوسره به طبعیي پایله داروښانه کړي چې دوزیرو زیاته برخه به دزمان په تیریدو سره زموږ په واک کې راشي .او دهغوي په نورو چاروکي به دلاسوهني نوره موقع هم زموږ لپاره برابره شي اوموږ به ترتصوررزیات په دغه برخه کې دبریو په لور وړاندې ولاړشو.خو داخبره هم شته چې موږ لا په دي باوري نه یو چې پردغه لاره تګ به زموږ لپاره څومره ګټوروي اوڅنګه به پردغه لاره پرمختګ وکړو، دامساله تراوسه هم یوڅه بحث ته اړتیالري ، خوزه په خپل نمیګړي فکرسره په دي باوري یم چې، موږ په دغه برخه کې پرمختګ ته ملاتړلي، خو په دي لا سم باوري نه یو چې پرخپله دغه تګلاره به پرمخ ولاړشواوکه نه .

۵: زه دهغه څه په باب چې فارن سکرترۍ په تلګرام کې په ۱۳ نیټه دیوې اعلامیې او یا دربار په اړه لیکلي جدي شکمن یم ځکه هغه دا وړاندیزکړې چې کوم څه دلته ترسره کیږي باید ټول یوموټي اوحسابی وي څو دهغو په رڼاکې هغه څه ترسره شي څو وښیي چې موږ په بشپړه توګه په دغه باره کې په یوه نوې کرښه روانیږو اونوې تګلاره وړاندې کوو. دا به دوزیرو اونور قبایلو لپاره چې په دغه برخه کې ځانګړې اندیښنې لري ډیره مهمه وي ځکه نودوی ته باید په لیکنی او وینې توګه دغه ټول څه پرته له هرډول درغلی او غولونې په ډاګه اوبې پردې وویل شي. لکه : « په راتلونکي کې به مو دیرغل لپاره ځای نه وي ، که تاسې داکارترسره کړ، زموږ اوامیر له خوا هغه چې له موږ سره دقانون دپلې کولو په کارکې مرسته کوي درنه سزا ووینۍ » .
زه فکرکوم چې که دغه پیام دغوخلکو(قام ) ته په ډاګه ورسول شي هغوی به په ټولیزه توګه په خپل جوړښت کې دغه بدلون وستایی ، په تیره بیا هغه مهال چې دپولې دنښه کولو سمه تګلاره زموږ اوامیردښواړیکو په پایله کې رامنځ ته اوعملي کیږي . زه تردې زیات نورڅه په دغه باره کې نه شم ویلای ، اوکه چیرې نورڅه په دغه اړه وایم فکرکوم چې هغه زیاتي جوړونکی نه بلکه نیمګړې او ترموضوع ورهغه خواڅه وي. خو څه چې باید وویل شي هغه باید له زمان او حالاتو سره برابرڅه وي . تراوسه کوم څه چې زما له خوا د تیروتنې اوشک سبب شوي هغه دادي لکه چې ما یوه کمشنرته داځواک او صلاحیت ورکړ او ورته ومې ویل کوم څه چې په یوه برخه کې ضروري وي باید وویل شي لکه هغه بله ورځ چې کټ مټ موضوع رامنځ شوه اوهلته یوشمیروزیرو دامیر پرعلاقه اوقلمرو باندې دیرغل خبره راجګه کړه ، ما کمشنر ته داخبره وکړه چې که دا خبره ستا په نظر ډیره مهمه وي ، باید هغوی ته وویل شي چې داکارپه هغه حال کې شونی دی چې که امیرپردغه برخه باندې دخپل قلمرو ادعا وکړه په هغه حال

کی به موږ دوی ته دا اجازه ورکړو چي دهغه په وړاندې هغه ته دسزاورکولو اجازه ولري.
۶: پرپوله دننه لګولو دکارد جزیاتو په اړه دادپاملرنې وړ ده چي دا داسي څه دي چي موږ باید دهغي په اړه په اړینه توګه په ترون کي یوڅه یادکړي وای ، اوس دایوه اړتیا ده چي باید هغه یوشمیرځایونوکي لکه چي ما لاپخوا هم اشاره ورته کړی چي هغه کرمه ده ،خو دټرون له مخې بیا دا وړاند وینه شوې چي باید یوازې په هغو برخو کي « چیرې چي یی دعملي کیدو اولیوالتیا » شونتیا وي باید ترسره شي. په عین حال کی داخبره هم ده چي موږ داهیله لرو او دا مو پتیلي چي دننې لګولو خبره باید دیوې تکلارې اویوې پالیسی په توګه ترلاس لاندې ونیول شي ، په داسي حال کي چي زموږ دغه دریځ دهغو قبایلو د دریځ خلاف دی هغوی چي زه فکرنه کوم دغه کارته ترهغه پورې چي په دغه اړه یولامل اودلیل ونه وینی دلیوالتیا اوعلاقي غاړه کیږدي .
۷: کیدای شي له (کومدور دماندی ؟ )څخه په یوڅه واټن دشمال په لوردپولې ټاکل اودهغي جزیات یوه اړتیا وي ، خوداهم باید په پام کي وی چي دهغي دعملي کولو لپاره هم بشپړ لاملونه په لاس کي وي چي دهغو هسکو اوټیټو له لیدو اوهلته دننه تګ په حال کي له موږ سره یو لامل شي . همداسي دغه ټکي به د وزیرو لپاره څنګه د احتمال له مخي دمنلووړشي، موږ باید له دغو ټکو سره یوځای زموږ د ځایي مامورینو نظریات هم له پامه ونه غورځوو. کیدای شي وزیر په رښتیا هم دي ته لیوال وي چي دغه پوله باید په دغه برخه کي په نښه کړه شي. البته داهم شوني ده چي دوي په طبعیی توګه داغږ وکړي چي که دا کاریوځل اوززعملي شي دوي په دغه اړه هیڅ اعتراض نه لري.
دوزیرو له سیمی د تیریدنګ اودکرمي ترپولې پورې رسیدل ، لکه چي ما مخکي دهغه په باب خپله کتنه په ډاګه کړه ، موږ باید دپیواړغانبي په پام کي ونیسو او باید ووایم چي دابه له منطقه لري وي چي دهغه ځای او لندي کوتل ترمنځ پولې دننه لګیدو هڅه دي دم کړی په عملي توګه ترلاس لاندی ونیول شي ، ځکه زه باوري یم چي له لندي کوتله بیا دکابل ترسیندہ دغه پوله تراوسه پورې لا شکمنه ده .په دغه سیمه باندې نښه لګیدنه کومه ستونزه نه ده خوترهرڅه دمخه باید دغه سیمه په روښانه توګه په نښه کړه شي.
۸: دکابل ترسیند هغه خوا پوله دپنجاب له پولې ور په هغه خوا ده ، چي موږ دهغي په اړه زیاته اندیښنه نه کوو. اونه له هغې سره دځانګړو معیارونو په پام کي نیولو سره کوم چلنداومعامله په پام کي لرو، که چیرې دهند حکومت لیوال وي چي د پیښاور کمشنراو یا هم دهغه دمرستیال سره دمعاملي څه ترسره کړي ، نو په هغه حالت کي به داسمه وي چي باجوړ دچارو دمامورینو دندو ته پاملرنه وشي چي کیدای شی دهغوی یوشمیر له دندو باید لرې کړل شي.
۹ :لنډه داچي ، زه فکرکوم چي په اوس مهال کي به زموږ لپاره ترټولو ښه خبره داوي چي په دغه برخه هیڅ هم ونه کړو اوهرڅه ته دېرجدي ونه ګورو ، ځان باید آرام ونیسو اوهغه وخت باید په څه باندې لاس پورې کړو چي کلک دلیل ورته

ولړو. هغه برى چې سر ديورند موږ ته راپه برخه کړى دهغه په اړه بايد زياته خوشالي ونه ښيو. که موږ دغه دريځ دځان لپاره غوره کړو ، دابه د وزيرستان په اړه دحيرانى خبره نه وي چې ددې کارپه پايله کې به ترلنډې مودې وروسته درويش خيل اومسود هم زموږ دچوپتيا په ترڅ کې له موږ څخه دپيسو ترلاسه کولو لپاره خپل غږ پورته کړي. که موږ په داسې يو دريځ کې وو چې دوى موږ ته اړ وي ، په دغه حال کې موږ کولاى شو دوى ته پيسې ورکړو چې په هغو سره به زموږ لپاره شوني وي چې ددغي سيمې په باره کې هرڅه وغواړو هغه به دځان کړو. په عين حال کې ما تل داخبره کړې اويوځل بيايې وايم چې په دغه برخه کې موږ بايد له يوځي مشرتابه سره هم خپلو مشورو ته دوام ورکړو اوله هغوى سره چې دوزيرستان په چاروکې بوخت دى بايد تل په تماس کې وو، دهغوى له مشورو وروسته موږکولاى شو پر دغه سيمه باندې دخپل برلاسي په باب تصميم ونيسو. خو زما داخبره دامانا نه لري چې کوم دريځ چې موږ به يې په دغه سيمه کې ترلاسه کوو هغه به خامخا بريالى او زموږ له خوښې سره سم ، په زړه پورې دريځ وي.
په عين حال کې داهم بايد په پام کې ولرو ،هغه حالت او دريځ چې موږ فکرکوو هغه به زموږ لپاره ترټولوښه اوپه زړه پورې وي ، کيداى شى په دغه برخه کې يوبل داسې دريځ اوپوزشن هم رامنځ ته شي چې تردغه به هغه ښه اوکامل وي ، خو موږ بايد دځان لپاره په هغه حالت کې مهم اومطلق هدفونه ولرو او يوازې په هغو نظريو باندې چې موږ فکرکوو هغه به زموږ په ګټه وي خپل پلانونه عيارنه کړو.
۱۰: هيله من چې ددغه يادښت کاپي به کمشنرانو ، فارن سکرترى اونورو مقاماتو ته هم ور واستوي .
ډي .فيتزپټريک »

پايله
سږکال دادى د دريورند پرنامنلي کرښه (۱۲۱) کاله پوره کيږي ، خو دافغان واحد ملت په دغه يوه پيړى کې هم دخپلې خاورې ددغې پراخې او سمسورې برخې پرسردغې خبرې ته غاړه کې نه ښوده اونه يې کله هم په زړه کې ورتيره شوه چې ګواکې دغه برخه يې له لاسه وتلې اوهغې په خاطر اوږده مبارزه بايد دپاې پرتکې باندې ودروي ، نه ، په تيره اوږده موده کې ددغې خاورې دبيا پيوستون او يوځاى کيدوپه خاطراوږده مبارزه وشوه اوباور دي ترهغو چې ددغو خلکو دخودارادیت بيرغ دآسيا په زړه کې نه وي اوچت شوى ، دغه مبارزه به بياهم دوام لري . ځکه چې دافغانانو ځوان نسلونه هم ددغه تاريخي وياړاو داعيې په خاطر اوس هم تر کرښه آخوا او دا خوا خپلو پرله پسې مبارزو ته دوام ورکوي او په دې د يوه رسالت په توګه باوري دي چې : دادهرافغان په مخ کې له خاورې اوخپلواکى سره دمينې او مسووليت داعيه او ديراخو آزادى غوښتونکوولسونو او آزادپالو واکمنانو لکه غازي امان الله خان ،فخرافغان پاچاخان ، وزيرصاحب محمد ګل خان اروابناد سردار محمد داود خان، خان شهيد او اروابنا ډاکترنجيب الله اونورو دهيواد پالني ، سرښندني نه هيرودونکي ميراث دي . موږ په دي هم باوري يو او هم هيله من چې که نږى له افغانانو سره مرسته کوي ، دوى دي دخپل انساني کرامت اودملتونو غوښتنو ته د درناوي په نامه له افغانانو سره دا مرسته وکړي لکه

چې له جرمني سره يې دبرلين ددېوال په نړولو کې لاسونه يوکړل ، همداسې دې له افغانانوسره د تاريخ په دغه دموکراتيک دورکې دامرسته وکړي څو د ديورند نامنلې او بې ديواله کرښه هم نوره د ابدلپاره دافغانانو له مخې لرې کړي .
زموږ مبارزه به زموږ دخاورې ددغې برخې دخپلواکۍ تر پولې پورې پر همدغه ژمنه روانه وي چې : موږ د ديورند منحوسه کرښه نه منلې اونه به يې په راتلونکې کې ومنو!


اخځونه :
-------------------
(۱) د هند ملي آرشيف شميره (۶۵) خارجي څانګه ( سکريت ) ، د۱۸۹۴ جنوری
(۲) دهند ملي آرشيف ، خارجی څانګه ، ( سکريت ) شميره ( ۱-۵۷ ) ۱۸۹۴ کال
(۳) رشيد ، ديورند توره کرښه يوه غيرانساني هڅه (ناچاپ )
(۴) دعلا مه اقبال ، ليکونه ، په اردو ژبه ، د دهلی چاپ .
(۵) رشيد ، غازي محمد جان خان وردګ ، کابل ۱۳۹۰ .
(۶) سيدعبدالاحد ميربچه ، قهرمان ملی غازی ميربچه خان کوهدامنی کابل ۱۳۸۹
7: William Kaye , *HISTORY OF THE AFGHAN WAR IN AFGHANISTAN* , volume (1) Delhi 1999.
8:Ludwig W. Adamec , *AFGHANISTAN'S FOREIGN AFFAIRS to the mid- 20th century*, ARIZONA, 1974.




علا م حيدرخان چرخی (به منځ کې ) دسروی له ډلی سره حی له ديورند سره دمرستی په موخه ټاکل شوی وه

پای